السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# له ظلم څخه ځان وساتئ، ځکه چې ظلم د قيامت په ورځ تيارې دي او له بخل څخه ځان وساتئ، ځکه چې بخل له تاسو څخه مخکې خلک هلاک کړي دي،

له جابر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "له ظلم څخه ځان وساتئ، ځکه چې ظلم د قيامت په ورځ تيارې دي او له بخل څخه ځان وساتئ، ځکه چې بخل له تاسو څخه مخکې خلک هلاک کړي دي، دېته يې اړ ويستلي چې خپلو کې وينې توی کړي او د الله جل جلاله محرمات ځانته حلال وګرځوي".
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د ظلم په اړه خبرداری ورکړ، چې له جملې څخه يې: د خلکو سره ظلم کول، په خپل ځان ظلم کول او د الله تعالی په حق کې ظلم کول دي. او ظلم؛ حقدار ته د حق نه ورکول دي او دا چې ظلم د قيامت په ورځ د ظالمانو لپاره تيارې دي چې له امله به يې له سختيو او وحشتونو سره مخ شي. او له هغه بخل څخه يې منعه وفرمايله چې حرص ورسره مل وي، چې يو ډول يې د مالي حقونو په ادا کولو کې غفلت او په دنيا سخت حرص کول دي. دا ډول ظلم هغه ظلم دی چې زمونږ څخه مخکني ملتونه يې تباه کړي دي، اړ يې ويستل چې يو بل ووژني او د الله جل جلاله محرمات ځانته حلال کړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5787

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee